غلام جيلاني ځواک

نيټه 14/02/2010

بسم الله الرحمن الرحيم

# افغان څېړنيز او مشورتي مرکز وپيژنئ

افغان څېړنيز او مشورتي مرکز د روان کال د دلوي د مياشتي په ۱۹مه نيټه په کابل کې د يوې غونډې په ترڅ کې پرانستل شو.

د افغان څېړنيز او مشورتي مرکز د څېړنيزو او مشورتي خدماتو د وړاندې کولو يو علمي بنسټ دی. د دې مرکز فعاليتونه به کاملاً د علمي ميتودونو سره سم سرته رسيږي
دا مرکز به په سياسي، ټولنيزو او اقتصادي برخو کې څېړني کوي، مشورې وړاندې کوي او نظر پوښتني به سرته رسوي.

دا مرکز د افغانستان د دولت په شمول د حقيقي او حقوقي شخصيتونو د غوښتني پراساس، په پورته مسايلو کې تحقيقي خدمات، نظر غوښتني او مشورې وړاندې کوي

د دې مرکز د تمويل منبع اوس يواځې د دې مرکز د موسسينو شخصي امکانات دي، خو دا مرکز به لکه څرنګه چې پورته وويل شول د پيسو په بدل کې هم څېړنيز مشورتي او د نظرغوښتني خدمات وړاندې کوي.

د يادولو وړ ده چې د دې مرکز ټول علمي فعاليتونه د مرکز د علمي بورد لخوا اداره کيږي، چې په دې بورډ کې د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي استاد پوهندوی سيد مسعود، د سياسي چارو کار پوه او ليکوال ښاغلي وحيد مژده، غلام جيلاني ځواک، د ويسا د ورځپاڼې مسئول مدير ښاغلي زبير شفيقي، تکړه ژورنالست او ليکوال ښاغلي ضيا بوميا غړيتوب لري. دا مرکز په نظر کې لري د نورو ورته موسساتو او مرکزونو سره ګډه همکاري ولري او خپل نظريات او تجربې سره تبادله کړي، او ورته موسساتو سره د يوځاي کار کولو لپاره زمينه برابره کړي.

په غونډه کې د افغان څېړنيز او مشورتي مرکز د مرکز د مشر غلام جيلاني ځواک لخوا د غونډې ګډونوالو ته وپيژندل شو، په دې غونډه کې د مخالفينو سره خبرو اترو او ملي روغې جوړې په اړه يو بحث هم جوړ شوې وو چې په کې ګډ شمير د سياسي چارو کارپوهانو، د ولسي جرګې غړو او د رسنيو استازو برخه اخستې وه.

موږ سره اړيکي
تليفون: 0799248497
بريښناليک: aaacenter2010@gmail.com


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ